# د خپل کروم بوک (Chromebook) سره اشنا کیدل

دا سند ستاسې د کروم بوک (Chromebook) لپاره معلومات لري. که تاسې کومې پوښتنې لرئ نو مهرباني وکړئ په 7802-566 (916) شمیره د مرستې ډیسک سره اړیکه ونیسئ، یا موږ ته په TechSupport@twinriversusd.org بریښنالیک ولیږئ

د کروم بوک (Chromebook) چالانولو لپاره، لیډ پرانیزئ. که چیرې چالان نشي نو د کي بورډ په پورتنې ښۍ اړخ کې د چالانولو تڼۍ د کښیکاږلو هڅه وکړئ. که تاسې د کروم بوک 3189 (Chromebook 3189) ماډل لرئ، نو د چالانولو تڼۍ یې ښۍ اړخ کې ده. د دې معلوماتو لپاره چې تاسې کوم ډول کروم بوک (Chromebook) لرئ، ماډل د کروم بوک (Chromebook) لاندې موندلی شئ.

## د بې سیم شبکې سره د خپل کروم بوک (Chromebook) نښلول

کله چې تاسې په کور کې د لومړي ځل لپاره خپل کروم بوک (Chromebook) چالان کړئ، ستاسې سکرین کې به یو پیغام راښکاره شي: **شبکه موجود نده.** د پیغام لاندې به د موجود بې سیم شبکو یو نوملړ وي.

که تاسې په کور کې د بې سیم انټرنیټ شبکه لرئ، نو ستاسې د بې سیم شبکې نوم به په نوملړ کې څرګند شي.

1. خپل د بې سیم شبکې نوم باندې کلیک وکړئ او یوه کړکۍ به راښکاره شي.
2. د پاسورډ (**Password**) ځای کې خپل د بې سیم انټرنیټ شبکې پاسورډ ولیکئ.
3. بیا نښلول (**Connect**) کلیک کړئ
4. نښلیدل یا وصل کیدل به یو څو ثانیې وخت واخلي.
5. کله چې وصل شي نو تاسې به بیرته په سکرین کې لاګ ان یا ننوتلو ته لارښود شئ.
6. خپل د زده کونکي آي.ډي ( **Student ID**) ولیکئ او بل (**Next**) کښیکاږئ.
7. خپل پاسورډ ( **Password**) ولیکئ او بل (**Next**) کښیکاږئ.
8. شاوخوا یوه دقیقه پورې تمه وکړئ چې ستاسې ډیسټاپ او اپلیکیشنونه راښکاره شي.
9. اوس تاسې د خپل کروم بوک (Chromebook) کارولو ته چمتو یې.

## د کروم بوک (Chromebook) کي بورډ د پورتنۍ لیکې تڼۍ

- د کروم بوک (Chromebook) لاک کول **(یوازې په 3189 ماډل کې)**
- د چالانولو تڼۍ **(یوازې په 5190، 3100، 3180، 3120 ماډلونو کې)**
- خپل د براوزر یا لټونګر تاریخچه کې تیرې پاڼې ته ورشئ
- خپل د براوزر تاریخچه کې بلې پاڼې ته ورشئ
- خپله اوسنۍ پاڼه بیرته وخیژوئ
- ټبونه او لانچر په بشپړ سکرین ټول اړخیز حالت کې پټ کړئ
- ټولې کړکۍ په عمومي لید حالت کې وښیوئ
- سکرین ډیم کړئ
- سکرین روښانه کړئ
- غږ بندول
- د غږ ټیټول
- د غږ لوړول



**د خوندیتوب لارښوونې:**

- خپل د کمپیوټر رمز د هیڅ چا سره مه شریکوئ.
- خپل کروم بوک (Chromebook) داسې مه بندوئ چې کوم څه پکې دننه وي.
- په خپل کروم بوک (Chromebook) دبره کوم څه مه ږدئ.
- په خپل کروم بوک (Chromebook) دبره خوراک یا څښاک مه کوئ.